# د جینکو د سکولونو تباهي

**لیک مسعود انصاري ترجمه احسان الله او ناصر**



د سوات مولانا فضل الله په خپل غېر قانوني ایف ایم ریډیو سټېشن دا فتویٰ ورکړه چې "جینکو ته نوے تعلیم ورکول به زمونږ راتلونکے نسل د صحیح لارې نه واړوي، د دې نه د بچ ساتلو دپاره دې دوي خپلو کورونو پورې محدودې کړې شي" هغهٔ خپل اورېدونکي خبردار کړل چې هغوي دې خپلې ماشومانې غېر اسلامي سکولونو نه راوباسي کوم چې بې حیائي خوروي.

د دې فتوې نه پس د مولانا فضل الله منونکو جولائي **2007** نه مئ **2008** پورې د یو کال نه هم کم وخت کښې سوات کښې د جینکو **40** سکولونه تباه کړل. په دغې سکولونو حملې هله بندې شوې کله چې فضل الله سېکیورټي فورسز سره د جنګ بندئ اعلان وکړو. خو د جنګ بندئ ختمېدو نه پس یو ځل بیا په دغه سکولونو د حملو سلسله شروع شوه او په مټه او کبل سب ډویژنونو کښې د سکولونو ورانول هغوي خپل مقصد وګرځولو. په شلو ورځو کښې تقریباً **24** سکولونه تباه کړے شول. په دې حقله د پښتونخوا صوبې د سکول اېنډ لټرېسي وزیر سردار حسېن بابک ووې چې عسکریت پسندو په سوات کښې **64** سکولونه تباه کړل. د سرکاري اعددو شمار مطابق په سوات کښې **566** د جینکو سکولونه دي چې **4** ګرلز هائرسېکنډري سکولونه، **22** ګرلز هائي سکولونه، **51** ګرلز مډل سکولونه او **489** ګرلز پرائمري سکولونه شامل دي. د جینکو پرائمري سکولونو کښې تقریباً **131** سکولونه تباه یا بند کړے شو، د کوم د وجې چې **17200** ماشومانې د تعلیم نه محرومه شوې.

سوات او قبائلي سیمو کښې د حکومتي چارواکو او شرپسندو ترمېنځه جنګ کښې چې تعلیم ته څومره نقصان ورسېدو، هغې ته د چا خیال نهٔ دے. په دې جنګ کښې په فاټا کښې د جینکو د تباه شوو سکولونو مکمل اعدادو شمار نشته خو کوم خبرونه چې د نیوز اېجنټانو نه راځي هغه دا ښکاره کوي چې حالات ډېر خراب دي. د محکمه تعلیم مطابق په دې جنګ کښې تعلیمي لحاظ سره باجوړ اېجنسي د ټولو نه زیاته متاثره شوې ده او د جینکو ټول سکولونه یا خو تباه کړے شوي دي او

یا بند کړے شوي دي. شمالي او جنوبي وزیرستان کښې هم حالت څۀ دغه رنګ دي چرته چې 180 کمیونټي سکولونه کوم چې د بېن الاقوامي ادارو په تعاون سره جوړ کړے شوي وو، هغه هم بند کړي شوي دي. د خېبر اېجنسي مقامي خلقو په درۀ آدم خېل کښې د جینکو دپاره یو پرائیوېټ سکول شروع کړے دے، چې پکښې تقریباً 600 جینکۍ سبق وائي، هغه مور پلار چا چې دخپلو ماشومانو تعلیمي اخراجات برداشت کولے شو نو هغوي د ماشومانو سره پېښور یا د پېښور په رنګ نورو ابادو علاقو ته کډې یوړې.



د محکمۀ تعلیم مطابق عسکریت پسندو د جینکو د سکولونو بندولو دپاره یوه ساده طریقه اختیار کړې ده، هغوي وړومبے یو پمفلټ د سکولونو په ګېټونو ولګوي چې پرې لیکلي شوے وي "مونږ دا فېصله کړې ده چې سکول بلډنګ به په بمونو الوځوو نو کۀ کومه ماشومه دلته موجوده وه نو هغه به د خپل مرګ په خپله ذمه واره وي" دغه رنګ عسکریت پسند دغه رنګ دړکې ټرانسپورټرانو ته هم ورکوي چې ماشوماني خپلو بسونو کښې سکولونو ته وړي. ځینې وخت عسکریت پسند دغه پمفلټې د ماشومانو کورونو کښې یا د سکول د هېډ ماسټرانو کورونو ته هم ورغورځوي. استاذان هم په دغه طریقو وېروي. د پمفلټو د تقسیمولو مقصد دا دے چې جاني نقصان کم نه کم وشي، د محکمۀ تعلیم د یو افسر مطابق چې کله په سکولونو کښې ماشومان موجود وي نو دوي پرې کله هم حمله نۀ ده کړې، دې نه دا ثابتېږي چې د عسکریت پسندو غټ مقصد په عامه توګه په عوامو کښې وېره پېدا کول دي. عسکریت پسند اکثر د شپې حمله کوي، دوي د سکول څوکېدار وتړي او د قرآن مجید ټول جلدونه او دغه رنګ نور اسلامي لټرېچر د سکول نه لرې کړي او دې نه پس سکول په بمونو والوځوي.

په اکتوبر 2007 کښې یو عسکریت پسند په مومند اېجنسۍ کښې د یو سکول استاذه په دې خبره سر عام قتل کړه چې هغې د دړکې باوجود پړده نۀ وه کړې.
د دې واقعې نه پس په اېجنسۍ کښې د جینکو ټول سکولونه بند کړے شو، ځینې استاذانو خو ورته استاذي پرېښوده او ځینې استاذانو د دړکو نه ډک خطونه ذمه وارو افسرانو له ورکړل. د سرکاري چارواکو مطابق پاړه چنار کرم اېجنسۍ کښې د تعلیم حالت د نورو شپږو اېجنسو مقابله کښې ښۀ دے. دغه اېجنسۍ کښې د جینکو کالج چې په 1995 کښې جوړ شوے ؤ په هغې کښې اوس هم تعلیم جاري دے او 900 جینکۍ پکښې سبق وائي.
د کرم اېجنسۍ عوام د تعلیم په اهمیت پوهه دي او هغوي خپل راتلونکے نسل تعلیم یافته غواړي ځکه خو میران شاه کښې رزمک کېډټ کالج کښې اوسه پورې تعلیم جاري دے، د کالج طالب علمان د نورو کالجونو په مقابله کښې په ښۀ ګرېډونو پاس کېږي.

په پېښور کښې په يو بېنک کښې کارکونکې زنانه محترمه بشريٰ وائي چې عوام غواړي چې خپلې ماشومانې سکول ته ولېږي خو دوي مجبوره دي ځکه چې په سکولونو کښې د ماشومانو ژوند ته خطره وي. محترمه بشريٰ وړاندې وائي چې هغه داسې ډېر خاندانونه پېژني چې د خپلو لوڼو د سبق دپاره د فاټا بندوبستي علاقو ته په کډه راغلي دي، خو دغه نقل مکاني هر خاندان نۀ شي کولے، ځکه چې غربت ډېر زيات دے. مور پلار نۀ يواځې د لوڼو د تعليم په حواله پرېشانه دي بلکې دوي د هلکانو د تعليم په حقله هم پرېشانه دي ځکه چې يو اړخ ته خو د جينکو سکولونه تباه کېږي او بل خوا ته دغه طالبان د هلکانو سکولونو ته راځي او هغوي ته د جهاد باره کښې ليکچرې ورکوي او هغوي بيا ځان سره جهاد دپاره بوتلو ته تياروي. هم دې سلسله کښې د درۀ آدم خېل د يو تن زوئے ورک شو د هغۀ ثوارلس کلن زوئے د سکول نه عسکريت پسندو د جهاد دپاره وانا وزيرستان ته بوتللے ؤ کله چې ئې پلار ته پته ولګېده نو هغه زوي ته د واپس راتلو ووئيل خو زوي ئې د واپس راتلو نه انکار وکړو، ځکه چې د هغۀ ذهن د جهاد دپاره تيار کړے شوے ؤ خو پلار خپل زوئے په ځۀ چل واپس راوستو او دغې کښې هغه ته ډېر مشکلات مخې ته راغلل.

د عسکريت پسندو د تعليم مخالفت په حقله د تعليم صوبائي وزير سردار حسېن بابک ووې چې "عسکريت پسندو له خوا د تعليم مخالفت څۀ نوې خبره نۀ ده ځکه چې نن نه تقريباً 70 کاله وړاندې يو مقامي مُلا د باچا خان د تعليمي تحريک مخالفت وکړو، دې تحريک په پښتونخوا صوبه کښې تقريباً 1200 سکولونه جوړ کړي وو او دغې سکولونو کښې به جديد تعليم ورکړے کېدو د هغې د مخالفت دپاره به مليانو جماعتونه استعمالول او عوام به ئې د تعليم نه منع کول".

د يو بل صوبائي وزير جېل خانه جات ميا نثار ګل مطابق دا مليان د سکولونو او جديد تعليم مخالفت ځکه کوي چې پښتانۀ جاهلان پاتې شي کوم کښې چې به د دوي فائده وي ځکه چې د دغه جاهليت په بنياد به دغه مليان په پښتنه معاشره کښې خپل ځائے برقرار وساتي، صوبائي وزير وړاندې وائي " چې صوبائي حکومت تعليم دپاره زياته پېسه مختص کړې ده" سردار حسېن بابک ووې" چې څنګه بېن الاقوامي طاقتونو د افغانستان په جنګ کښې مليانو او طالبانو ته ځومره وسله او پېسه ورکړې ده، هم دغه طاقتونه دې اوس هم دغه هومره پېسه د پښتونخوا صوبې د تعليم محکمې ته ورکړي" د صوبائي وزير مطابق په صوبه کښې تقريباً **5500** سکولونه جوړول پکار دي او د دې دپاره د فنډ ډېر سخت ضرورت دے.

د تعليم د صوبائي وزير د نوو سکولونو جوړولو غوښتنه په ځائے ده خو د افسوس خبره دا ده چې صوبائي وزير د نوي جوړېدونکو سکولونو د حفاظت دپاره تراوسه پورې څۀ پلان نۀ دے تيار کړے. بابک صېب ووئيل چې د صوبائي حکومت په قبائلي علاقو کښې هيڅ قسمه کنټرول نشته او د دغې سکولونو کوم چې په قبائلي علاقو کښې دي د هغې د حفاظت ذمه واري په وفاقي حکومت ده، ځکه چې دغه علاقې د وفاقي حکومت په کنټرول کښې دي. صوبائي وزير دا خبره هم ښکاره کړه چې تېر شوي او اوسني صوبائي حکومت د تعليم د تحفظ دپاره څۀ خاص پلان نۀ دے تيار کړے، د

هغهٔ مطابق د تعلیم تباهۍ کښې د فوځ هم ډېر لاس دے ځکه چې فوځ د عسکریت پسندو خلاف اپریشن شروع کولو په وخت کښې دغه سکولونه د مورچو په توګه استعمال کړي وو او د دغې مثال سوات دے.



د طالبانو د تعلیم مخالف تحریکونو د مخنیوي په ځائے انتظامیې همېشه د دوي دړکې نظر انداز کړي دي. د دې ښهٔ مثال په درهٔ ادم خېل کښې تېر کال د عسکریت پسندو د دړکو نه پس مقامي انتظامیې زنانه استاذانې او ماشومانو جینکو ته سکولونو ته تګ راتګ دوران کښې د برقعې د اچولو حکم ورکړو.

د تجزیه نګارانو مطابق معاشرتي او اقتصادي ځپلي شوې معاشرې دپاره داسې حالات صحیح نهٔ وي، ځکه چې دا به دغه معاشره کښې جاهلیت نور هم زیات کړي. د Sustainable Development Policy Institute (SDPI) مطابق پاکستان د جنوبي ایشیا هغه ملکونو کښې دے کوم کښې چې د زنانه Illiteracy ریټ ډېر زیات دے او هغه 54 فی صده دے. د International Crisis Group (ISG) مطابق کال 2004 کښې د پاکستان د نورو صوبو په مقابله کښې پښتونخوا کښې Illiteracy ریټ ډېر زیات دے او په قبائلي علاقو کښې دغه ریټ نور هم زیات دے د ICG مطابق د پاکستان قبائلي علاقو کښې 25 فیصده سړي او 3 فیصده زنانه لیکل لوستل کولے شي.

د سرکاري اعدادو شمار مطابق صوبائي حکومت د کال 5-2002 مېنځ کښې 70 فیصده بجټ جینکو سکولونو دپاره مختص کړو. دې نه علاوه مقامي انتظامیې د مور پلار د جینکو تعلیم په حواله د حوصله افزایۍ دپاره کتابونه، کاپیانې مفت ورکړي دغه رنګ ئې د روزمره د کور د استعمال څیزونه لکه اوړهٔ، غوړي، چیني وغېره هم ورکړهٔ، دې سره نتائج څهٔ ښهٔ شول او د نور ښهٔ کېدو امېد هم لرلے شي. د دې اندازه د دې نه لګولے شي چې یواځې په سوات کښې پرائمري سکولونو کښې د جینکو د داخلې شرح د کال 2002 نه پس 77 فیصده شوه، دغه رنګ د فاټا سېکرټرېټ د یو سینئر افسر مطابق په جمرود کښې په دوه کاله کښې د داخلې شمېر 6000 ته ورسېدو. د دې نه علاوه د فاټا د 5 میلینه آبادۍ دپاره سالانه تعلیمي بجټ 3.8 بیلین ته ورسېدو. د دې په مقابله کښې د بلوچستان صوبې پوره تعلیمي بجټ د لس میلینه آبادۍ دپاره د یو بیلین نه هم کم دے. بل اړخ ته د پښتونخوا صوبې خپل تعلیمي بجټ 33.3 فیصده (21 بیلین) د تعلیم دپاره مختص کړو.

تعلیمي مېدان کښې چې دا څومره پرمختګ نن سبا روان دے دا به تر هغې پورې مقصدي نهٔ وي تر کومې چې د عسکریت پسندو په سکولونو د حملو مخ نیوے ونهٔ شي. دې دپاره بجټ مختص کېدو نه علاوه نور اقدامات هم پکار دي. په معاشرتي، کلتوري، اقتصادي او سیاسي کچ یو منظم کوشش پکار دے چې په سکولونو د عسکریت پسندو له خوا د کېدونکو حملو مخنیوے وکړے شي.

(دا مضمون د میاشتنۍ «هیرالډ» اګست 2008 ګڼه کښې چاپ شوے دے)